# د افغانستان اسلامي امارت

# د پلټنې عالي اداره

ښاريانو ته د پلټنې راپور

---

## د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د بلنګ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سېسټم د پلټنې راپور

### آيا تاسو پوهيږئ!

په افغانستان کې د پلټنې د عالي ادارې په نوم يوه اداره شتون لري چې مشري يې د عمومي رييس لخوا کيږي او د قانون له مخې دغه اداره د ټولو امارتي ادارو د پلټنې واک لري.

## د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه څه ده؟ او همدارنګه د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې راپور کوم موضوعات تر پوښښ لاندې نیسي؟




### دمعلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه دپلټنې یو ډول دی، چې په پراخه توګه لاندې موضوعات تر پوښښ لاندې نیسي!

- آیا دولتي اداري د اسنادو او اطلاعاتو د محرمیت، بشپړتیا او لاسرسي اصولو ته په پام کې نیولو سره د معاصرې معلوماتي ټکنالوژۍ سېستمونه تطبیق او پلي کوي؟
- ایا د معلوماتي ټکنالوژۍ سېستمونه د اداري د موخو سره سم اغیزمن اومؤثر کار کوي؟
- ایا په دفترونو کې د سېستمونو فعالیتونه اوکړنې په معیارونو برابر دي؟ دنه پلي کیدو په صورت کې کوم عوامل د سرغړوني لامل کیږي او په ساحه کې کومې ستونزې شتون لري؟
- ایا دعامه برخو معلومات اواطلاعات چې د دولتي ادارو لخوا راټول شوي خوندي دي؟
- ایا د معلوماتي سېستمونو کنټرول اود بریښنایي حکومتدارۍ زیربناوې په اغیزمنه توګه ډیزاین (طرحه) شوي؟
- ایا دمعلوماتي ټیکنالوژۍ سېستمونه کوم چې د پلټنې لاندې دي د حکمونواو فرمانونو په پام کې نیولو سره ډیزاین او طرحه شوي؟
- ایا دمعلوماتي ټکنالوژۍ سېستمونه دسازمانونو اړتیاوو ته ځواب ویونکي دي؟

## دپلټنې عالي اداره د کومو ادارو پلټنه کوي؟

## د پلټنې عالي اداره د ټولو هغو بودیجوي او غیرې بودیجوي سکتورونو او عامه دولتي واحدونو پلټنه کوي.

- ټول د اسلامي امارت پوري اړوند اداري برخې لکه د قضائیه قوه او لویه څارنوالي.
- ټول وزارتونه، ریاستونه ازاد اداري ، کمېسیونونه ، مرکزي او ولایتي اداري د عایداتي ادارو په ګډون او همدارنګه د دولت کورنۍ او بهرنۍ برخې شامل دي.
- همدارنګه سره میاشت ، ښاروالیانې او امارتې تصدیانې هم شامل دي.
- هغه اداري چې عامه بودیجه په واک کې لري او د هغې څخه استفاده کوي.

## دمعلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه کې پلټونکې دلاندې مواردو پلټنه اوارزونه کوي



- د معلوماتي ټکنالوژۍ چاپیریال ته دلاسرسي ارزونه، زېربناوې، پالیسي، کاري میکانیزم، د معلوماتي تکنالوژۍ کاري ګړنلاري، د معلوماتي ټکنالوژۍ د سېستمونو کاري بهیر او د معلوماتو تحلیل، چې ددې سېستم په عملي کیدو سره دیوې اداري څومره موخې ترلاسه شوي دي؟
- ایا د معلوماتي ټکنالوژۍ زیربناوې خوندي دي؟



- د سېستم په داخلي کنټرول، کاري سېستمونو او معلوماتو ته لاسرسی، محرمیت او بشپړتیا په ترلاسه کولو کې د کارکونکو اغیزمنتوب څه دی؟.
- ایا معلوماتي سېستمونه د هېواد د نافذه قوانینو سره سم او د اغیزمنتیا او مؤثریت اصولو په پام کې نیولو سره طرح (ډیزاین) او پلي شوي دي؟
- آیا منطقي لاسرسی (چې کارکونکې یې د خپلو دندو له مخې معلوماتي سېستمونو ته لاسرسی لري) اغیزمن کارکوونکي دي؟
- ایا د معلوماتي ټکنالوژۍ زیربناوې خوندي دي؟
- ایا پلټنه د لاسرسي، محرمیت، د معلوماتو بشپړتیا، د محرمیت ساتنه او پیژندنه د پنځو اصولو څخه په یو یا څو تمرکز کوي.
- د سېستم داخلي کنټرول، کاري سېستمونه او معلوماتو ته لاسرسی، محرمیت او بشپړتیا په ترلاسه کولو کې د دوی اغیزمنتوب.
- ایا معلوماتي سېستمونه د نافذه قوانینو سره سم او د اغیزمنتیا او مؤثریت اصولو په پام کې نیولو سره طرح (ډیزاین) شوي او پلي شوي دي؟

## د معلوماتي تکنالوژۍ د پلټنې د کار پایله د پاتې ګامونو لپاره د لاندې مقاماتو سره شریکیږي:

**د پلټنې عالي اداري مقام سره:**

- د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې پایلې د پای ته رسیدو دمخه د پلټنې عالي ادارې مشرتابه سره شریکیږي، ترڅو د دوی نظرونه او ځوابونه ترلاسه کړي.

**ریاست الوزرا درانه مقام سره**

- د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې راپورونه په جلا توګه ریاست الوزراء ته سپارل کیږي، ترڅو د پلټل شوی اداره مکلف کړي، چې په تطبیق کې یې سمون راولي او د پایلو حکمونه پلي کړي. او همدارنګه د پلټنې د حکمونو د پلي کولو(تطبیق) او بشپړولو په موخه د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې د راپور یوه کاپي هم د پلټنې عالي ادارې ته استول کیږي، پلټل شوې اداره مکلفه ده، چې د پلټنې سپارښتنې پلي(تطبیق) کړي او د پلټنې عالي ادارې ته ډاډ ورکړي.


## ولې په ادارو کې  د معلوماتي ټکنالوژۍ او سېستمونو پلټنه مهمه ده؟



سرپلټونکې مکلف دی، چې د معلوماتي ټکنالوژۍ  پلټنه ترسره کړي او وړ چارواکو ته یې راپور ورکړي

د ټکنالوژۍ پلټنې موخه د معلوماتي زیربناوو پلټنه او ارزونه ده، د دې پورې اړوند پالیسۍ او عملیات او د معلوماتي ټکنالوژۍ کنټرول څرنګوالی، د معلوماتو بشپړتیا  او د اړونده ادارې سره په همغږۍ ددوی عمومي هدف ټاکل دي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه یوه خپلواکه او هدفمنده پروسه ده، چې د پلټنې عالي ادارې پلټونکې د یوې ادارې د سېستمونو، شبکو او برېښنایي پروسو د خطرونو پیژندلو لپاره تشخیص کوي.



د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټنه د داخلي سېستمونو کنټرول، د معلوماتي سېستمونو ارزونه ده ترڅو د مالي پلټنې موخې ترلاسه کړي، دعملکرد(دکړنو پلټنه)او د قوانینو او مقرراتو پلټنو سره مرسته وکړي. او د معلوماتي ټکنالوژۍ پلټونکي هم د مشورې لپاره د اړونده چارواکو لخوا ټاکل کیږي. تر څو زیانونه وپیژندل شي اود خطرونو(زیانونو)د کمولو لپاره د اړونده اشخاصو په همکارۍ لازمې کړنې ترسره کړي.

### د معلوماتي ټکنالوژي د پلټنې راپور:

## د بلنګ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سېستم د پلټنې راپور چک (برسی):

### کوم موضوعات او مسلې زموږ د پلټنې لاندې پوښل شوي؟

### د بالنګ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سېستم د پلټنې اصلي موخي:

**۱.** دعمومي معلوماتي ټکنالوژۍ سېستمونو کنټرول او اغیزمنه ارزونه؛

**۲.** د معلوماتي ټکنالوژۍ له موجوده سېستمونو د نافذو قوانینو او مقرراتو په موجودیت کې ډاډ ترلاسه کول.

**۳.** د پلټنې لاندې ادارو د موخو ترلاسه کولو لپاره د معلوماتي سېستمونو اغیزمنتوب او مؤثریت څخه ډاډ ترلاسه کول.

**٤.** د بریښنایي حکومتولۍ پلي(تطبیق) کول.

**۵.** دا ډاډ ترلاسه کول چې څنګه د عامه شتمنیو، کورني او بهرني معلومات او د اړونده اداري هارډوېرونو او سافتوېرونو ساتنه وشي.

### هغه موارد (قضیې) چې د پلټنې تر پوښښ لاندې دي:

د پلټنې عالي اداری د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې پر بنسټ، د سوداګرۍ د ثبت مرکزي سېستم د سوداګرۍ درانه وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ د حکومتولۍ کنټرول د (مرجع په سطحه)، د منطقي لاسرسي کنټرول، د بدلون مدیریت، معلوماتي ټکنالوژۍ فعالیتونه، د معلوماتي ټکنالوژۍ تړونونه، معلوماتو پلټنه، د اپلیکشین کنټرولونه او ارزونه او د ۱۳۹۹ څخه تر ۱۴۰۱ هجري شمسي کاله پورې د معلوماتو تحلیل هم د داخلي سېستمونو د کنټرول او پیژندلو په موخه ترسره شوي دي.

### هغه معیارونه چې د معلوماتي ټکنالوژۍ په پلټنه کې ترې استفاده شوې په لاندې ډول دي.

۱. د افغانستان اسلامي امارت احکام او فرمانونه.

۲. دنړیوالو ادارو د پلټنې ۵۱۰۰ معیار.

۳. د کوبیټ ۲۰۱۹ معیارونه.

۴. د نیسټ (Nist) معیارونه.

## د پلټنې عالي اداره او د هغوی پلټونکي څه ويني او څه لټوي يعنې د پلټنې موخه يې څه ده؟



- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ سېسټمونو په پلي کولو کې د عصري ټکنالوژۍ، پاليسي، ميکانيزيم اود رسمي طرزالعملونو د استعمال حخه ډاډ ترلاسه کول دي.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ په سېسټمونو کې د معلوماتو خونديتوب او ډاډمن کيدل.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سېسټمونو د مؤثريت او فعاليت څخه ډاډ تر لاسه کول.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سېسټمونو د پراختيا په جريان کې د قوانينو او معيارونو سره ترون يقيني کول.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ سېسټمونو د داخلي کنټرول او اغيزمنې استفادې څخه ډاډ ترلاسه کول.
- ✓ په سېسټم کې د داخل شوي معلوماتو بشپړتيا يقيني کول.



## د معلوماتي ټکنالوژي راپور د سپارښتنو او لاسته راوړنو سره مل د افغانستان اسلامی امارت عالي مقام ته وړاندې کيږي.

## په اوسنی پلټنې کې مو څه لاسته راوړل؟

## د معلوماتي ټکنالوژی په پلټنه کې زموږ د موندنو لنډيز:

| | |
|---|---|
| د معلوماتي ټکنالوژۍ د هراړخيز سېسټم نشتون | د پلټنې په جريان کې څرګنده شوه، چې ياد شرکت د پيرودونکو عوايدو د ثبتولو لپاره د جامع معياري سېسټم نه لري. |
| د تعرفو په محاسبه کې اضافه حساب کول | د ۱۳۹۶ څخه تر ۱۴۰۲ کلونو پورې د ۱۰,۸۷۹,۶۴۰ افغانيو په اندازه د استوګنې، سوداګريزو او سپېڅلو ځايونو لپاره د ټاکل شوي هر متر مکعب اوبو قيمت څخه اضافه محاسبه شوی. |
| د تعرفو په محاسبه کې کم حساب کول | د ۱۳۹۶ څخه تر ۱۴۰۲ کلونو پورې د ۱،۲۱۴،۴۱۵ افغانيو په اندازه د استوګنې، سوداګريزو او سپيڅلو ځايونو لپاره د ټاکل شوي هر متر مکعب اوبو قيمت څخه کم محاسبه شوی. |
| د معلوماتي تکنالوژی د استراتيژيک پلان نشتون | د پلټنې په جريان کې څرګنده شوه، چې د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې استراتيژيک پلان نه نلری ترڅو فعاليتونه سم لوري ته رهبري کړي. |
| د غير اړونده ځانګو لخوا د سمټ او کيوک بوکس د راټولولو سېسټمونو مديريت | د معلوماتي ټکنالوژۍ په آمريت کې د کارکوونکو او مسلکي کسانو کمښت او د يوې واحدې ځانګې لاندې د معلوماتي ټکنالوژۍ د تخنيکي فعاليتونو د همغږۍ نشتوالی. |
| د معلوماتي ټکنالوژۍ د مشرتابه يا اجرائيوي کميټې نشتون | د معلوماتي ټکنالوژۍ د پروژو د ښه مديريت لپاره، د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د معلوماتي ټکنالوژۍ مشرتابه يا اجرايوي کمېټه نلري. |
| د تغيراتو د مديريت پاليسي نشتون | د پلټنې په جريان کې څرګنده شوه، چې په ياد شرکت کې د رامنځته کيدونکو تغيراتو د مديريت لپاره پاليسی شتون نلري. ترسره شوي بدلونونه د بدلون د مديريت پاليسي نلري. |
| د معلوماتو د بک اپ لپاره د پاليسي نشتون | د معلوماتي ټکنالوژۍ محترم آمرتی د بک اپ پاليسي نلري، او د سېسټم د معلوماتو بک اپ په منظم ډول نه اخيستل کيږي. |
| د کار د دوام پلان (BCP) او د ناورين د بيا رغونې او جبران پلان (DRP) نشتون | د معلوماتي تکنالوژۍ آمريت د ناځاپې پيښو په صورت کې د معلوماتو د ساتنې او چټکو عملياتو لپاره د کار د دوام پلان (BCP) او د ناورين د بيا رغونی او جبران پلان (DRP) چی نلری. |
| د روزنيزو کورسونو د تنظيم نشتون | د معلوماتو د امنيت د خونديتوب د پاليسي او طرزالعمل په اړه د روزنيزو پروګرامونه، د شرکت د مهمو معلوماتو د ساتلو په موخه ندی تنظيم شوي. |
| د پټنوم د پاليسی نشتون | د معلوماتي ټکنالوژۍ آمريت د پټنوم يا پاسورډ پاليسي نلري. |
| د معلوماتي ټکنالوژۍ وسايلو د کارولو لپاره د طرزالعمل نشتون | د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د وسايلو کارولو لپاره طرزالعمل **شتون نلری.** |

| | |
|---|---|
| د خطر د مدیریت د پالیسۍ نشتون | د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د سېستم د احتمالي خطرونو د تحلیل، پیژندنې او مخنیوي په موخه ځانګړې پالیسي نلري. |
| د پاچ د مدیریت پالیسۍ نشتون | د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د سیستمونو ثبت، ارزونې او نصبولو لپاره د پاچ د مدیریت پالیسي نلري. |
| په سرور خونه کې د کنټرولونو ضعیف | د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت سرور خونه غیر معیاریتوب. |

## زموږ پایلې :

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت یو امارتی شرکت دی، چې د عوایدو د راټولولو په خاطر یې د بلنګ (سمس) سېستم را منځته کړی دی. پر همدی بنسټ د مشترکینو معلومات په الکترونیکی سېستم کې ثبت او دغه معلوماتو پر بنسټ بل چاپ او د مشترکینو په واک کی ورکول کیږی.

د پلټنې ګورمال شوی ټیم د شرکت د بیلانس شیټ د حالت د تحلیل په موخه، د نغدو جریان حساب او نور مالي اسناد د ارزونی او تحلیل لاندی نیولي، چې د نغدو د جریان او د پورونو نسبت په ۱۳۹۹ مالی کال کی د (۰،۱۵۱) په اندازه، په ۱۴۰۰ مالی کال کی د (۰،۱۶۸) په اندازه، په ۱۴۰۱ مالی کال کی د (۰،۱۲۱) په اندازه دي، کوم چې د نغدو پیسو د جریان له لارې د اوسنې پور د نه تمویل کیدل ښایي. له همدی امله، د شریکانو حقونو ته د پور نسبت په ۱۳۹۹ مالی کی ۰،۲۰ په ۱۴۰۰ مالی کی ۰،۲۲ او په ۱۴۰۱ مالی کال کې د ۰،۲۴ دی، چې دا روښانه کوی چې په ۱۳۹۹ کې د شرکت ۲۰ فیصد، په ۱۴۰۰ کې ۲۲ فیصده او ۲۴ فیصده په ۱۴۰۱ کال کې د شرچینو (شتمنیو) څخه پور ندی ادا کړی.

د یادونې وړ ده، چې د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت په ۱۳۹۹ کال کې (۱۲۰،۵۵۷،۳۲۲) افغانی، په ۱۴۰۰ کال کې (۱۲۹،۹۸۲،٦۳۷) افغانۍ او په ۱٤۰۱ کال کې (۹٦٦۱،۳٦۲) افغانۍ تاوان کړی، چې مدیریتي کمزورتیا بلل کیږي.

برسیره پر پورتنیو نقاطو، یاد شرکت د عوایدو د راټولولو سېستم یا سمس چی د جرمنیانو لخوا جوړ شوي، استفاده کوی. یاد سیستم د اکسس په پروګرام کی رامنځته شوی، چې د اکسس پروګرام د حداکثر ۵ جی بی معلوماتو د زخیره کولو توانایی لری. او د معلوماتو د زیاتوالې په صورت کی، اکسس د اضافه معلوماتو د ثبتولو وړتیا نلری.

د یاد شرکت کارکونکي د مشترکینو معلوماتو را ټولوي او په لاسی ډول د سمس په سیستم کې رسوي او بیا یی د یو اس بی[1] پواسطه نورو کمپیوټرونو ته انتقالوي، چې پدی سره د ویروس د خپریدو احتمال زیاتیږي. د شرکت سرورونه د نړیوالو معیارونو په خلاف، په عامه ځای کی واقع دی او د سمس سیستم سرورونه د تجارتی ریاست د مدیریت لاندی دی، چې یاد ریاست فنی کارکونکي نلري او د معلوماتو د له منځه تللو احتمال شتون لري.

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د یاد شرکت د مالی امورو د مدیریت په موخه د کویک بوکس د پوستغالی څخه استفاده کوی او د عوایدو د راټولولو د سیستم معلومات په یاد پوستغالی کی په لاسی ډول رسول کیږي، چې کویک بوکس پوستغالی ته د عوایدو راټولولو د سیستم د معلوماتو په سمه توګه د نه ننوتلو خطر زیاتوی.

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د استوګنې، سوداګریزو او سپیڅلو ځایونو لپاره د ۱۳۹۶ څخه تر ۱۴۰۲ پورې د ټاکل شوي تعرفې د نرخ څخه مجموعی ۱،۲۱۴،۴۱۵ افغانۍ کمي محاسبه کړي، او همدارنګه د ټاکل شوي تعرفې نرخ څخه ۱۰,۸۷۹,۶۴۰ افغانۍ زیاتي محاسبه کړې.

همدارنګه ګومارل شوی تیم د ۵۴۵ نمبر استعلام چی په ۱۴۰۲/۷/۲ نیټه د هغه تړون د لیست په اړه چې د اوبو رسولو د امارتی شرکت او د زوم بایټ شرکت ترمنځ د کوبک بوکس د ۳۰ یوزرو د پیرلو په موخه تړل شوی وو، چی معلومه شوه چې یوازی ۲۷ یوزر د اوبو رسولو د شرکت کارکونکو ته ویشل شوي، چې د شرکت د اړتیاوو په سم ډول د نه پیژندلو پر بنسټ د اضافه پیریدلو سبب شوي.

---

[1] USB

له بله پلوه، د ښاري اوبو رسولو او فاضله موادو شرکت د معلوماتي ټکنالوژۍ استراتیژیک پلان، د معلوماتو د خوندیتوب پالیسي، د معلوماتي ټکنالوژۍ اجرایوي کمېټه، د بدلون د مدیریت پالیسي، د بیک اپ پالیسي، د پاچ مدیریت پالیسي، د معلوماتي ټیکنالوژۍ وسایل کارولو پالیسي، پاسورډ یا د پټنوم پالیسي، د خطر د مدیریت پالیسي او د شرکت د سرورنو د خونې نه معیاریوالي، او د عوایدو راټولولو سیسټم (سمس) سرورونه په غیر معیاري ځای کې او د تجارتی ریاست لخوا مدیریت کیږي. د پورته ذکر شویو نقطو په پام کې نیولو سره، کنټرولونه اغیزمن ندي او جدي کمزوری لري.

پر همدی بنسټ، اړتیا ده چې د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د شرکت د فعالیت ښه کولو لپاره د اوبو خدماتو د پلور زیاتولو لپاره دوامداره جامع ستراتیژي پلان رامنځته او ترتیب کړي. یاد شرکت وارزول شوی تر څو غیر ضروري لګښت راکم شي او مالي چارې د تفصیلي پلان له مخې کنټرول شي تر څو د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د نغدو پیسو جریان په دقیقه توګه او د ضرورت په وخت، وڅارل شي.

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د اضافه اندازه شوی محاسبه او په راتلونکي کال کې پیرودونکو ته ورکړی او د کم اندازه شوو محاسبه وکړی او د پیرودونکو څخه بیرته ترلاسه کړي.

د یادولو وړ ده چې شرکت باید د استراتیژیک پلان، د معلوماتو د خوندیتوب پالیسي، د خطر د مدیریت پالیسي، بیک اپ پالیسي، د بدلون د مدیریت پالیسي ترتیب کړي او د واک لرونکو چارواکو له تصویب وروسته یې په پلي کولو لاس په کار شي.

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت دی سمدلاسه د محاسبې پوستغالې سرورونه او د عوایدو راټولولو سیسټم د مؤثره او ګټور مدیریت لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت ته وسپاري او د ظرفیت لوړولو لپاره پراختیایی پلانونه ترتیب کړي.

## زمونږ سپارښتنې:

| | |
|---|---|
| ✓ د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت باید د عوایدو او مالي چارو د مدیریت په موخه یو جامع سیستم رامنځته کړي. | ✓ د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د ۱۰,۸۷۹,۶۴۰ افغانیو اضافه محاسبه شوي پیسې له پیرودونکو سره تصفیه کړي. |
| ✓ د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د **۱،۲۱۴،۴۱۵** افغانیو کم محاسبه شوي پیسي له پیرودونکو سره تصفیه کړي. | ✓ د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت محترم عمومي ریاست باید خپل درې تر پنځه کلن استراتیژیک پلان ترتیب کړي. |
| ✓ د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت محترم عمومي ریاست باید د دغه ریاست د اړتیاوو سره سم د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست د کارکوونکو شمېر زیات کړي. | ✓ د خطر د مدیریت پالیسي باید ترتیب او پلي شي. |
| ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ محترم آمریت باید د معلوماتي ټکنالوژۍ د رهبري یا اجرایوي کمیټه جوړه کړي. | ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ محترم آمریت د بدلون د مدیریت کمیټه په معلوماتي سیستمونو کې د ښکیلو ریاستونو او د محترم ریاست مقام د استازي په همغږي رامنځته کړی. |
| ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ محترم آمریت د بک اپ پالیسي باید ترتیب او پلي کړي. | ✓ د کار د دوام او د ناورین د بیارغونې او جبران پلان باید ترتیب او پلي شي. همدارنګه، د سیستم ټول معلومات باید په منظم او اتوماتیک ډول په دوهم ځای کې بیک اپ شي. |
| ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د معلوماتو د خوندیتوب په موخه د کارکوونکو د پوهاوي د کچې د لوړولو په موخه روزنیز پروګرامونه په لاره واچوي. | ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د پټنوم پالیسی د ۲۷۰۰۱ معیارونو سره سم ترتیب او پلي کړي. |
| ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت باید د ټکنالوژیکي وسایلو د کارولو لپاره کړنلاره یا پالیسي تنظیم کړي. | ✓ د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت باید د خطر مدیریت او کنټرول پالیسي ترتیب کړي. |
| ✓ د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت باید د پاچ د مدیریت پالیسي ترتیب او پلي کړي. | ✓ د سرور خونې ته د غیر مجاز اشخاصو د لاسرسي څخه د مخنیوي لپاره، د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت باید د سرور خونې پالیسي او معیارونه چمتو کړي. |

## زموږ اضافه شوي ارزښتونه:

### د پیښو موارد (قضیې)

د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو امارتی شرکت دی ۱،۲۱۴،۸۱۵ یو میلونه او دوه سوه څوارلس زره اته سوه پنځلس افغاني کم محاسبه شوي پیسي د پیریدونکو سره تصفیه کړی.

### کیفیتي موارد

هغه کارونه، چې د سیستم لخوا او هغه، چې قلمي یا ورقي تر سره کیږي مدیریت کول او ډاډ لاس ته راوړل.

د سیستم د لا پیاوړتیا لپاره د مشکلاتو ، غلطیو او نورو نیمګړتیاوو د سمون لپاره سپارښتنه او کنترولول.

د رئیس الوزراء عالي مقام ته د معلوماتي ټکنالوژۍ د پلټنې راپورونه چمتو کول او دولتي ادارو سره تعقیب کول اوهمدارنګه ښاریانو لپاره د پلټنې راپور چمتو کول.

ډاډ ترلاسه کول چې څنګه د پلټنې لاندي ادارو د کورنیو او بهرنیو معلوماتو، سافټویر، هارډویر او د عامه شتمنیو ساتنه وشي.

د پلټنې لاندي ادارو د لومړنیو معلوماتو محرمیت (پټ) ساتلو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې کارکونکو له پوهې او پوهاوي څخه ډاډ تر لاسه کول.

د پلټنې عالي اداره ®

## د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو شرکت د بلنګ د معلوماتي ټکنالوژۍ د سیستم د پلټنې راپور

موږ روڼتیا او حساب ورکونې ته ژمن یو